محمد اياز نوري آزادي 2017 /5/17

# افغان مشهور پخوانی ویاندوی ډاکټر نبي مصداق ته دغه زما پوښتنه

درونند مشهور افغان شخصیت او د پښتو ژبې منلی نطاق مصداق صاحب ته سلام او درناوي تقدیم کوم. مخکې له دې، چې خپلې پوښتنې ته راشم، وایم ما لکه مطمین یم په شمېر ډېرو افغانانو لر او بر دغه ستا خدای درکړې غږ یا آواز سره یوه خاصه علاقه لرلې ده. ټولو ته معلومه ده، چې خصوصاً تر ۲۰۰۰ز کال پورې د بی بی سي راډیو او پښتو سرویس یې حقیقتاً، چې پخپل ځای کښې د خبرونو، فرهنګ او افغاني تقافت لپاره نه هیریدونکی خذمت تر سره کړی دئ.

تاسو جناب د می د میاشتې په اتمه د ( حکمتیار د جنګ او سولې مخکښ ) تر عنوان لاندې لیکنه مو افغاني رسنیو د نشرلپاره ورکړله. ما دغه ستاسو په زړه پورې لیکنه ولوستله او د محتواء څخه یې هغه پاراګراف، چې ستاسو د اړیکو ټیګیدل د پخواني یا وروستي افغان پاچا اعلیحضرت مرحوم محمد ظاهر شاه او زوم یې والاحضرت سردار جنرال عبدالولي او بیا مو روم ته تګ تشریح شوی، دلته ورځینې را اخلم: « پخوانی پاچا ډېر نرم مزاجه او صبور شخصیت و. په خپل ټول عمر کې یې یوازې د پاریس له لومانډ ورځپاڼې سره یوه مرکه کړې وه. له رادیو او تلوېزیون سره خو هیڅ مخامخ شوی نه و. څکه هم څلور میاشتې یې ونیولې چې ما هغه د ده د تره زامنو، سردار ولي او سلطان محمود غازي لخوا وهڅاوه چې بي بي سي پښتو خپروني سره چې ټول مهاجر او په داخل کې افغانان یې اوري، یوه مصاحبه وکړي. پاچا حاضر شو او زه روم ته ورغلم او د لومړي ځل لپاره مې د اعلیحضرت او سردار ولي سره ولیدل. دوی غوښتل چې زما له خولې واوري چې څوک یم. ما سردارولی ته وویل چې زه د ځاځیو د اربکي د لښکر د مشر، حاجي کهندل خان زوی یم او کله چې ځاځیو ستا د پلار، شاه ولي خان او تره شاه محمود خان چې تقریبًا شپږ میاشتې په ځاځیو کې مېلمانه وو او د کابل د نیولو په فکر کی وو، نادرخان، ستا پلار شاولي خان او ستا تره شاه محمود خان، د ځاځیو یوې لویې جرګې ته چې د افغانستان د آزادئ لپاره راغوښتل شوې وه، جرګې ته وویل چې تاسې (ځاځي) یو تجار قوم یاست او دا دئ څو میاشتې د خپل کار او تجارت پر ځای زمونږ کوبه توب کوی. مونږ له تاسو څخه درې غوښتنې لرو چې هم به ستاسو او هم زمونږ راتلونکی پرې روښانه شي. نادرخان د ورونو په مشرئ وویل چې ټول شاوخوا قومونه، یا سقاوي شوي او یا هم په کوم مخالفت کې نه دي را پورته شوي؛ خو سقاو زمونږ په سر انعام ایښي . مونږ هغه ته تسلیم کړئ، له یوې خوا به تاسو ته انعام درکړي او له بلې خوا به مونږ هم ستاسې له مخې لرې شوي وو. دویم دا چې مونږ ته وواياست چې را څخه په تنګ شوي یاست او له ځاځیو نه مو وباسئ او درېیم دا چې ملا را سره وتړئ چې کابل ونیسو. د جرګې سپین ږیرو، ورونو ته وویل چې مونږ غواړو ستاسو په غیاب کې په دې درې واړو غوښتنو خبرې وکړو.

په جرګه کې هیڅوک هم حاضر نه و چې مېلمانه د پیسو په مقابل کې وپلوري او یا هم مېلمه ته ووايي چې مونږ درڅخه په تنګ شوي یو او باید له ځاځیو نه ووځي. نو پرېکړه وشوه چې د اربکیو لښکر جوړ کړي او زما د پلار او شاه ولي خان په مشرئ کابل ته په حرکت کې شي. ما سردار ولي ته د ده او زما د پلار ځینې د جنګ نورې یادونې هم وکړې او هغه وویل چې عینًا همدا خبرې مې راته پلار هم کړې دي، ولې ته په کابل کې ماته نه یې راغلی چې ما به داسې او هغسې کړې وو. بیا


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکارئ ته رابولي. په دغه پته له مونږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

نو چې د درې نورو مصاحبو لپاره ایټالیه ته ورغلم؛ نو د یو ښه دوست په صفت به یې له ما سره، پیش امد درلود.» ( نبي مصداق ، نوموړې مقاله، ۸/۰۵/۲۰۱۷ افغان جرمن انلاین)

**ښاغلی مصداق صاحب:** ما لیکونکي د ۱۹۹۴ز کال په اوړي کې ستاسو د آریوب ولسوالی په هغه د غونډۍ په سرعسکري چونۍ کې د مین پاکولو په پروژه کې د ۶ میاشتو په موده د مامور په حیث تیرې کړي دي، لاکن دغه د علیخیلو سیمه اوس زما نه هیره ده، خیر ستاسو د توضیح په اړه لومړی زه عرض وکړم، چې نادر خان لکه د انګریز یو باوري موظف شوی کس پس له ښه سوچ ځخه دغه درې وړاندیزونه تاسو ځاځیو ته مخته کړي ول او په دې حقیقت دغه مکار جنرال ښه پوهیده، چې دغه پښتانه ځاځي افغانان دومره بیغیرته او بی مروته نه دي، چې ما سقاو باندې خرڅ او یا مې له خپله کوره وشړي، راځه د دوی احساسات په دې چل ښه راوپاروه. له بلې خواء لکه څنګه چې د زماني بهیر، بی پروا وښودله زمونږ د معاصر تاریخ یوه لویه ملي غمیزه همداء په ۱۹۲۹ز کال کې د اماني دولت له منځه تلل او د استقلال د باني اعلیحضرت غازي امان الله خان تبادله د یوه بی سواده غله حبیب الله مشهور په بچه سقاو سره ګڼل کېږي. دا چې ستاسو مرحوم والد الحاج کهندل خان صاحب بیا د غلواکي د سقوط لپاره د نادر خان او ورونو یې یعنی شاه ولیخان سره یو ځای د لویې پکتیا د ځاځیو ځخه د کابل په لور مجاهدت کړی دئ د یو ځانګړي تاریخي اهمیت ځخه برخورداره ښېښه ده. په ضمن کې دلته زما مخته د همدې لویې تاریخي پېښې د یو بل او یا اصلي او لومړي اتل خدای بخښلي جرنیل یار محمد خان وزیري د خاطرو یو کتاب پروت ده، او هلته ستاسو د زوکړې د سیمې یعنی د ځاځیو د علي خیلو په علاقه کې جنرال نادر خان د افغاني جرګې سره په قرانِ مجید تعهد کوي، چې د غلواکي د سقط ځخه به پس د افغانستان شاهي مقام د استقلال محصل غازي امان الله خان ته بیرته تقدیم کوو. جرنیل صاحب یار محمد خان وزیري په دې خورا مهمې او برخلیک ټاکونکي مسلې پخپل کتاب ۲۵۳ مخ کښې څه داسې لیکي:

### په علیخیلو کښې زموږ مشرانو او د سپاه سالار لومړی غونډه :

کله چې موږ مشران د مولوي الله نواز او فیض محمد ګردیزي په ملتیا چونۍ ته ورسېدوسپاه سالار صاحب شخصاً موږ خپل میلمستون ته رهنمائي کړو. وروسته تور چای راوړه شو او په جرګه باندې پیل وشو.. لومړی سپاه سالار محمد نادر خان خبری او وینا آغاز کړه، ځکه چې هغه زموږ کوربه او میلمه پال وه.

### د نادر خان وینا :

عزیزانو! د څښتن تعالی زیات او زیات شکرونه ادا کوم، چې ستاسو په څېر مېړنو سره یې زما ملاقات مهیا او تر سره کړ او هم د احد ذات شکرونه ادا کوم، چې تاسو د قوم ننګیالي مشران د مریاني یار محمد خان په زیار او کوښښ سره د وزیرستان څخه چې د انګریزانو تر اثر لاندی دئ د خپل افغان ورونو او خویندو د عزت پر ځای کولو او د وطن د نجات لپاره تر علیخیلو رارسیدلي یاست. زه د ځان او نورو راسره مل ملګرو او د خپلو دوو ورونو شاه محمود او شاه ولي په نمایندګي ستاسو راتګ ته هزار هزارهر کلی او ښه راغلاست وایم. ستاسو هغه جنګیالي چې د خوست په جګړه کښې په شهادت رسیدلي دي، الله پاک دې د نبي کریم (ص) د اصحابو په کتار کښې حشر کړي، یقین او باور لرم چې د افغانستان په تاریخ کښې به د هغه شهیدانو او ستاسو هر ننګیالي نوم په طلائي خط سره لیکل کیږي. [ عجیبه وینا ده، تاسو جناب نادر خان، چې په الله او د هغه په رسول او د تاریخ په قضاوت مو لا په دې دنیا کښې دومره کلک باور درلود، بیا مو څنګه د عهد په ماتولو د


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکني د لیکنیزې ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

بادشاهي مقام ځانته غضب کړ او دومره ناحقه قتلونه مو بدون د شرعی حکم تر سره کړل...لکه ستاسو په مخامخ امر د غلام نبي خان چرخي هغسي په وحشيتوب وژل؟!، زه ليکونکی ]
عزيزانو! اجازه راکړئ چي د زړه خواله هم درسره وکړم. زما پوره شپږ مياشتي ووتي چي د جنوبي په غرونو کي د مقدس هدف په نيت استوګن او مسافر يم، په دي اوږده مدت کښي هر څه مي هڅه او تلاش وکړ، چي د پکتيا ولس په څنګ کښي ودروم د هغه هم څه نتيجه په لاس رانغله. هغوی مالره دا ګوته نيسي چي ما ولي پخپل نوم باندي سلطنت نه دئ اعلان کړی. [ زه ليکونکی د نادر خان دغه دليل ترديد کوم، کيدای شي يو څو کسو دستوري د پکتيا دا مشرانو د هغه د لا شهرت او راتلوونکي زعامت لپاره داسی چاپلوس اظهارات چيرته کړي وي، اما دا نيوکه يي په عام کي زه نه منم] حضرت نورالمشايخ هم زما په وړاندي د جنوبي قومونه راپارولي دي. دلته د اعليحضرت امان الله خان په نوم يادولو سره سر له تن څخه بيليږي. [ نادر خانه! دروغ وايي او مبالغه کوې، که ته جناب حقيقت وايي، بيا دي ولي دٓآن په تعهد د غازي امان الله خان د يوه مخلص فدايي کوماندړ يار محمد خان سره د مهاجر شوي امان الله خان د بيرته هيواد ته د دعوت او شاهي مقام سپارل په هم هغه پکتيا کي ومنل؟] امان الله خان هم مجبور شو چي وطن پريږدي، زه هم اوس ډير نا اميده او پريشانه يم او نا اميدي راباندي غلبه کړي ده.اوس چي تاسو عزيزانو د افغاني ننګ او غيرت د پر ځای کولو لپاره ملاوي تړلي دي زما اميد قوي دئ چي په ګډه به ان شاء الله کامياب شو... .



دجنرال يارمحمدخان وزيری کتاب

**د جرنيل يار محمد خان وزيري وينا:**
**« سپاه سالار صاحب! نن چي دا ننګيالي او جنګيالي د عليخيلو په سپيره ډګر کښي خپل کاکونه پخوي، دوی خاص د اعليحضرت غازي امان الله خان د هغه فرمان په اعتبار راغونډ شوي دي چي د ۱۳۰۸ کال د حمل په دولسمه نيته په شاه جوی کښي مالره وزير صاحب عبدالاحد خان سپارلی وه... .»**
دغه کين اغوستی اماني مخکښي ليکي: « د ۱۳۴۸ هجري قمري کال د ربيع الثاني يوويشتمه نيټه وه چي سهار په لسو بجو باندي د عليخيلو په چونی کښي چي د محمد نادر خان مقر وه د مشرانو غونډه جوړه شوه او په دي غونډه کښي سپاه سالار محمد نادر خان، کرنيل سردار شاه محمود خان، مولويي صاحب الله نواز خان، حاجي صاحب نواب خان، زلمی خان منګل، زمرک خان ځدران، سنګ خان منګل، عبدالغني خان ګرديزی، فيض محمد د حاجي نواب خان زوی، غونډ مشر صاحب نور محمد ګرديزی، سردار صاحب امين جان د اعليحضرت امان الله خان ورور، فقير محمد خان مومند د اعليحضرت غازي امان الله خان په دوره کښي د جنوبي سمت د ځنګلونو رئيس، حاجي صاحب جان خان سربلند، سيد خان او ليپت خان د ځاځيو د ګل غوندی، شېر جان تنی، سدو خان تنی، شاديخان دوړ او د وزيرو او مسودو ټولو مشرانو زما تر قيادت لاندي ګډون درلود... د جرګي او غونډې د ګډون کوونکو د اوردو خبرو نه وروسته موږ مشرانو او سپاه سالار محمد نادر خان په دې لاندينۍ پرېکړه تعهد او پيمان وکړ:


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

محترم مصداق صاحب! دلته د کتاب په ۲۵۹ - ۲۶۰ مخونو کښې پوره ۱۵ مادې ذکر شوې دي، چې زه ليکونکی دلته ورځيني ۶-۵-۴-۱مادې راوړم.

**لومړۍ ماده:** د ټولو قبيلو او قومونو مشران دې خپل جنګيالي وطن ته تر نجات ورکولو پورې ترغيب کوي.

**څلورمه ماده:** د کابل تر نيولو پورې دې سپاه سالار صاحب په عليخيلو کښې ځای پر ځای وي او کرنيل شاه وليخان دې د سپاه سالار په وکالت د لښکرو سره مل وي.

**پنځمه ماده:** د وطن د نجات نه وروسته دې اعليحضرت غازي امان الله خان سلطنت کولو ته راوغوښتل شي او يا دې د ده د خيلخاني څخه وبل اهل ته سلطنت وسپارل شي. [ ځومره بوه واضحه فيصله شوې، يعنی حتی د غازي امير امان الله خان د انکار په صورت کښې هم جنرال نادر خان مطرح نه وه، بلکې د مشر غازي د کور څخه کس يو ورور يي بايد زموږ د افغانستان پاچا ټاکل شوی وای، زه ليکونکی]

**شپږمه ماده:** - د اعليحضرت غازي امان الله خان تر راتګ پورې به سپه سالار صاحب د سلطنت وکيل وي.

کېن اغوستی اماني يار محمد خان وزيری د کتاب په ۲۶۱مخ کښې بيا داسی ليکي:

« د جرګې د پرېکړې او فيصلې نه وروسته سپاه سالار صاحب محمد نادر خان چې ډېر پرېشانه او نهيلی وُ، زموږ مشرانو څخه يو ځل بيا تعهد واخيست چې مونږ به د کابل تر نيولو پورې او د حبيب الله د طاقت تر محوه کولو پورې د دوی تر څنګ ولاړ يو. موږ چې د افغاني ننګ او عزت د پر ځای کولو له پاره ملاوې تړلې وې، د محمد نادر خان سره مو عهد او تعهد وکړ چې د خپلو ځانونو تر قربان کولو پورې د وطن د نجات لپاره جنګېږو. همدا د ځاځيو د عليخيلو د غره چې د سفر غره په نوم يادېږي، جرګه کښې نادر خان زموږ مشرانو سره په قرآن لاس ليک وکړ چې د جرګې ټولو پرېکړو او فيصلو ته به غاړه ږدي او له حبيب الله سره به مصالحه نه کوي.»

## د سلطنت پر سر د مشرانو دوګانګي او د نادر خان عهد شکني:

په افغاني غيرت او صداقت سمبال او په پلازميني کابل مطلق حاکم جرنيل يار محمد خان وزيری د تاريخي کابل د فتحې څخه پس د خپل کتاب په ۳۳۳-۳۲۹ مخونو کښې د پورتني عنوان لاندې څه داسی ليکی:

« د کابل د فتحې کولو څخه [پس] د کابل ښار او کابليانو د حفاظت له لپاره زما جنګياليو په ډېر اخلاص او صداقت سره ګزمې او پيرې کولې. محمد نادر خان په ځاځيو کښې وه. په کابل کښې د ارګ په فتح کولو سره نه حکومت وه او نه دولت. د سلطنت اصلي وارث او خاوند د هيواد څخه بهر وه. د هغه راتګ په يوه ورځ او يوه هفته سره نه کېده او بل داسی نامي شخصيت هم نه وه چې د اعليحضرت غازي امان الله خان تر راتلو پورې د مملکت چارې ورته وسپارل شی او يا په هغه باندې اعتماد او باور وشي. سپه سالار محمد نادر خان د ځاځيو په عليخيلو کښې موږ د قومونو مشرانو ته داډ راکړی وه او هم يي په قرآن باندې راسره لاسليک کړی وه، چې د فتحې او کاميابي په صورت کښې به اعليحضرت غازي امان الله خان او يا د سراج د کورنی کوم بل غړي ته تاج او تخت سپاري. د ارګ د نيولو او د کابل د فتح کولو څخه درې ورځې وروسته محمد نادر خان کابل ته راورسېد. د ميزان ۲۳ نېټه وه چې موږ قومي مشرانو د کابل د فاتح لښکرو او سپاه سالار صاحب د ښار په طرف حرکت وکړ. زموږ جنګياليو ډولونه وهل، ملي سندرې او غاړې يې ويلې د خوشالي اتڼونه وو او هم د زنده باد غازي امان الله خان نارې په ټوله لار کښې پورته وې او په همدې څېر سره هغه قصر ته



افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په خير و لولـئ

ننوتو چي د هغه قصر سپین دیوالونه زما جنګیالیو په خپلو وینو رنګولي وه... . محمد نادر خان او مور قومي مشران هغه محل ته ولاړو چي ارګ کښي دوی ورته سلامخانه نوم ایښودلی وه. دلته د کابل ښار مخور او پاتي سرداران د سپاه سالار هر کلي ته راغلي وو. د سفارتونو یو شمېر غړي هم تر سترګو کېده. خلکو د محمد نادر خان ښه تود هرکلی او ښه راغلی وکړ. نادر خان د مجلس د صدر محل ته ولاړ. یوه لنډه وینا یې وکړه. خپل زحمتونه او تلاشونه یې بیان کړه. د وطن د نجات ټولي کارنامي یې په خان او خپلو ورونو پوري وتړلي. مور ټول د قومونو مشران د ده د سترګو تر نظر لاندي ناست وو، ولي زمور د خدمتونو او هڅو یې لږ شانته هم یادونه ونکړه. د خپلو ربړو او تلاشونو د یادوني څخه یې وروسته د سلطنت په اړه څه یادونه هم وکړه او د اعلیحضرت غازي امان الله د بیا راوستو وړاندیز یې وکړ او د دې وړاندیز سره جوخت د مال او مقام وړو او تږو او چاپلوسو افرادو نادر خان ته د بعیت کولو لاسونه اوږده کړه چي په دې افرادو کښي یو شمېر د قومونو او قبیلو مشران او د امان الله خان ورور هم شامل وه. [ زه لکه یو افغان پوښتم چي نادر خان ولي د بادشاهي د مقام سپارل بهر کښي مهاجر غازي امان الله ته د وړاندیز په شکل مخته کړل، دا مسله خو پخواء د قرآن په قسم فیصله شوې وه، نادر خان که د قرآن قول ته ژمن وای، باید ځان یې حاضرینو ته د بادشاهي مقام موقت سرپرست معرفي او هم هلته یې تلګرافچي ته امر صادر کړی وای، چي روم د ایټالیا ته په دغه متن تلګراف صادر کړه: حضور د غازي امان الله! کابل فتح شو، تاسو بیرته هیواد ته حرکت راوکړئ...؟! لیکونکی] **مور د وزیرو او مسودو مشران په همغه ځایونو باندي ناست وو او زما ملګرو مشرانو زما د حرکت انتظار ایسته.»** [ دلته معلومه شوه چي کېن اغوستي وفادار یار محمد خان نادر خان ته ورنغی او بعیت یې ورته ونکړ،لیکونکی]

## محمد نادر خان ته د هغه د عهد شکنې یادونه:

کله چي د ارګ په سلامخانه نومي محل کښي د محمد نادر خان د راتګ په ویاړ او مناسبت غونډه پای ته ورسېده او یو شمېر افرادو د آینده مقامونو د ګټلو په اسره محمد نادر خان سره بعیت وکړ، مور د وزیرو او مسودو د جنګیالي قومونو مشران بی له تم کېدو څخه د ارګ څخه راووتو، خپلو سنګرونو او مورچو ته راغلو. په سبا چي مور د لښکر مشران سره جرګه وو او په دې جرګه کښي فقیر محمد خان مومند د ځنګلونو رئیس مالره مخ کړ: « یار محمد خانه! ما په ګل غونډی کښي ستا تر غوږ رسولي وه چي محمد نادر خان دې تېر نه باسي. د تېرې ورځي بعیت ښه سیاسي لوبه وه.» د فقیر محمد خان وینا ټولو قومي مشرانو په غوږو واورېدله. ما په همغه ګنته رئیس فقیر محمد خان ته یادونه وکړه، اوس هم د کابل اداره زما په لاس کښي ده او د کابل په ټولو کوڅو او محلو کښي زما جنګیالي پیره او ګزمه دي. هغه شخص چي تاسو د سلطنت د معین په توګه په ګل غونډی کښي راته په ګوته کړی وه تا ولیدل چي هغه ډارن لومړنی فرد وه چي د محمد نادر خان سره یې بعیت وکړ. ما د هغه د خاندان او د هغه د ورور په خاطر دا ټولي ویني وبهولي اوس به هم د وینو ویالي جاري کړم ولی کاشکي د خپلواکی محصل [ غازي امیر امان الله ]رالره نژدې وای.

زمونږ د هم هغه ورځي د خبرو راپور کوم کس سپاه سالار محمد نادر خان ته رسولی وه. [ د نادر خان جواسیس بیا وخته د اماني جرنیل تر څنګ ورسره موجود ول، لیکونکی] په سبا چي د میزان د میاشتي ۲۵ نېټه وه، شاه محمود خان او محمد ګل خان مومند زمور د وزیرو او مسودو مشرانو احوال پرسي ته راغلل او راته یې یادونه وکړه چي محمد نادر خان زیاته هیله او آرزو لري چي نن ورځ په ځانګړي توګه ستاسو سره وګوري. ما د نادر خان دعوت ومانه. د فتح خان سردار په کور او لارو کښي د ګردېزیانو، ځاځیو او موسی خیلو د سړو پیرې او ګزمي وې. منزل ته په ننوتو


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له مور سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

سره سپاه سالار صاحب زموږ هر کلي ته راوتلی وه. پس له روغبړ يې يادونه وکړه: « د افغانستان ملت او زه شخصاً ستاسو قهرمانانو مديون يم. د وطن د نجات په لاره کښې ستاسو هر يو خدمت به ان شاء الله په دنيا او آخرت کښې ضايع نشي. ما هم تاسو عزيزانو ته د همدې لپاره بلنه درکړه که چيرې زموږ تاسو په ليدنه کښې ځنډ راته، چې تاسو ګيله من نه شئ. زه نن هم په هغه پيمان ولاړ يم چې موږ تاسو په ځاځيو کښې وربانديې دعا کړې وه.» [ فکر وکړو، مکارتوب او دوکه ورکول هم يو انداز لري، خو په دغه نادر خان تمامه وه، ليکونکی] د سپاه سالار محمد نادر خان د خبرو د اتمام وروسته الله نواز خان، زلمی خان منګل، عبدالغني خان ګردېزي او محمد ګل خان هم څه يادونې وکړې. د هغوی نه وروسته ما د وزيرو او مسودو د ټولو مشرانو په نمايندګي څو کلمې د مجلس حاضرينو ته په ګوته کړې او اشارتاً مې د اعليحضرت غازي امان الله خان بيا راوستو ته يادونه وکړه: **« سپاه سالار صاحب! د الله په نصرت او د قومي مشرانو په همت او مېړانه کابل فتح شو. د حبيب الله د شر او فساد د هيواد د يوې برخې څخه ټول شوی دئ. په کندهار، مشرقي او شمالي کښې اوس هم د هغه پلويان فعال دي او بهانې لټوي. اوس موږ ټولو ته په کار ده چې د عليخيلو په پيمان باندې عمل وکړو چې د نورو وينو تويولو جلوګيري په همدې کار وشی.»** [معنی، نادر خانه! ناحقه شاهي مقام ته ختلی يې د هغه قرآن په باور او درنښت، غازي امان الله خان بيرته هيواد ته ر ادعوت کړه، ليکونکی] سپاه سالار محمد نادر خان چې پوره هوښيار او زموږ د هر يوه قومي مشر طبعيت او مزاج يې درک کړی وه او زموږ په مينځ کښې د هغه سړو د بېلا بېل مشر مالي، مقامي او فردي تمايلات په ښه توګه بيان کړي وو په مجلس کښې زما د خبرو په اړوند د څو شيبو سکوت او مکث څخه په ځانګړي توګه **موږ د وزيرو او مسودو مشرانو ته په خوږه وينا سره وويل:** « **عزيزانو! ستاسو خدمتونه په دين او دنيا کښې نه ضايع کيدونکي دي. ستاسو د خدمتونو دين پر موږ ټولو باندې واجب دي. دا هم تاسو د قوم مشران واست چې د يو څو رهزنانو څخه مو وطن ته نجات ورکړ. خدای (ج) دا عظيم دنيوي او اخروي افتخار ستاسو په برخه او نصيب کړ. نن زه د عليخيلو پر هغه عهد او پيمان ولاړ يم. تاسو د غيرو مسوولو افرادو خبرو ته غوږ مه ايږدی او مه د هغوي احساساتي حرکاتو ته خپلې سترګې اړوی. په وطن کښې د آرامي او امنيت راوستلو وروسته ستاسو عزيزانو هره فيصله زموږ د ورونو فيصله ده.»**[ هو! عجيبه ده د انګليس په مکتب کښې لوستی بابا خپلو کوچنيو اولادو ته نصيحت وکړ، ليکونکی] د ماسخوتن ډوډی مو د سپاه سالار محمد نادر خان سره د فتح خان سردار په منزل کښې وخوړه او د خدای په اماني په حالت کښې چې محمد نادر خان په يوه لاس کښې زما لاس نيولی وه او په بل لاس کښې يې د انګور خان لاس وه، زموږ د داډ لپاره يادونه وکړه: « **يار محمد خانه! ان شاء الله و تعالی چې درست کارونه به قدم په قدم درست شي. د اعليحضرت امان الله خان سره به موږ په تماس کښې شو، چې خپل وطن ته راستون شي او دا کار يو څه وخت غواړي.**» [ يو څه وخت؟ بيا لومړی په څلورو کالو تبديل شو او بيا په دايمي، ليکونکی] د سپاه سالار محمد نادر خان وروستنيو خبرو موږ لره اطمينان راکړ چې هغه په خپل عهد او پيمان باندې ولاړ دئ چې يې زموږ سره د ځاځيو په عليخيلو کښې کړی وه.

**محترم مصداق صاحب!** دلته زما دغه ليکنه کښې بنسټيزه موضوع دا ده، چې د کابل شاهي ارګ د سقاو د زوی څخه د قرآن مجيد په تعهد د غازي امان الله خان په بيرته و هيواد ته د رابللو او هغه ملي قهرمان ته د شاهي مقام د بيرته سپارلو په نوم د مشر غازي د يوه کپن اغوستي عسکر جرنيل يار محمد خان وزيري ( رح ) له خواء نيول شوی دی. ستاسو محترم پلار حاجي صاحب مرحوم کهندل خان چې په دغو مهمو حادثو کښې يو حاضر او مهم کس وه، **تاسو جناب ته د هغه د زوی په حيث څه ويل او کوم نظر يې درلود؟** **پای**



افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رالېږلو مخکې په ځير و لولئ